مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۲۶

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(دووه نویمه برخه)

### سهراب علي صفري

د هزاره صفر محمد زوی د ۱۹۴۰ز لسیزې په اوږدو کې د بهسودو په راقول کې زېږېدلی دئ. له حربي ښوونځي څخه فارغ سوی او بیا د لیسانس په درجې د کابل پوهنتون د انجنیرۍ له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. د دفاع د وزارت کارمند. لومړی ئې د دوه ووکلونو لپاره او بیا ئې د څلورو کلونو لپاره په پولنډ کې تحصیلات وکړل او ساختماني چارو کې ئې خپله دکتورا واخیستله. د حربي پوهنتون استاد. د ډګرمنی په رتبې ئې خپله دنده پرېښودله. اوس په جرمني کې ژوند کوي.

### عبدالوهاب صافي

په ۱۹۷۸ز کال کې د عدلیې د وزارت د تقنین د ریاست رئیس. د ۱۹۷۹ز کال د سپتمبر په میاشت کې د عدلیې د وزارت د قضایي چارو مرستیال وزیر. له ۱۹۸۱ تر ۱۹۸۳ز کال کې د عدلیې وزیر او لوی څارنوال. مورنی ژبه یې پښتو ده.

### اسدالله صافي

د لومړني ښوونځي له بشپړولو وروسته د ۱۹۴۰ز لسیزې په اوږدو کې د ښکلیو هنرونو په لیسې کې شامل سو. د څه دباندې دیرشو کالو لپاره د حبیبیې په لیسې کې د رسامۍ ښوونکی. همدا شان د معارف په وزارت کې ئې د تدریسي کتابونو لپاره هم رسامي وکړې.

### باطن شاه صافی [1]

د امیر احمد صافي زوی په ۱۹۵۰ز کال کې د ننګرهار په روداتو کې زېږېدلی دئ. لومړنی زده کړي ئې په ننګرهار کې کړي دي او په ۱۹۶۸ز کال کې په کابل کې د نجات له لیسې څخه فارغ سوی دئ. په دې پسې د کابل پوهنتون د کرنې په پوهنځي کې شامل سوی دئ؛ بیا جرمني ته د «ګویته انستیتوت ایسرلن» [2] ته واستول سو چې جرمني زده کړي. په ۱۹۷۵ز کال کې ئې د «هیدلبرګ» [3] له پوهنتون څخه په کیمیا کې دیپلوم تر لاسه کړ. په ۱۹۷۶ز کال کې کابل ته

1 - Safi, Batin Shah : د انګلیسي متن مخې ته ئې په عربي الفباء باتین شاه صافی لیکلي دي چې تایپي تیروتنه ده. - ژ
2 -Iserlun Goethe Institute, Germany
3 -Heildelberg


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

راستون او د کابل په پوهنتون کې مدرس، او وروسته د کیمیا د دیپارتمنت رئیس سو. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د څېړنې د کمېټې غړی. په ۱۹۷۹ز کال کې ئې د کابل پوهنتون پرېښود او د ننګرهار ولایت ته لاړ او هلته د مجاهدینو د یوې ډلې بولندوی سو. دلته ټپي سو. په ۱۹۸۰ز کال کې پاکستان ته لاړ. په پېښور کې ئې د سعودي عربستان په مالي مرستې د لومړنیو زده کړو لومړنی ښوونځی او لومړی لیسه ئې جوړه کړله. په ۱۹۸۳ز کال کې ئې د ځلورو میاشتو لپاره په پوځي فعالیتونو کې ونډه واخیسته. په پېښور کې ئې د معارف د کمېټې بنسټ کښېښود.

### غلام حسن صافي

په ۱۹۱۲ز کال کې د لغمان ولایت د عمرزیو په کلي کې زېږېدلی دئ. په خپل کلي کې ئې په دودیز ډول زده کړې وکړې. له ۱۹۳۰ تر ۱۹۳۶ز کال پورې ئې د دولت د یوۀ کارمند په توګه کار وکړ او د هېواد په شمالي ولایتونو کې ئې د مدیریت مقام تر لاسه کړ. له ۱۹۳۸ تر ۱۹۴۴ز کال پورې د رشتیا د کمپنۍ او د اتحادِ بلخ د کمپنۍ د مدیره هیأت مشر. له ۱۹۴۵ تر ۱۹۴۷ز کال پورې د «تعاوني ډیپو» «کوپراتیف» رئیس. په ۱۹۴۵ز کال کې د مترقي سیاسي غورځنګ د «ویښ ځلمیانو» غړی. په ۱۹۴۸ز کال کې حکومت بمبئیي ته ولېږۀ چې د تعاوني ډیپو استازیتوب وکړي او د افغان ملي بانک مدیر وي. په ۱۹۵۰ز کال کې بېرته افغانستان ته راستون سو او په فعاله توګه ئې په ویښ ځلمیانو کې ګډون وکړ او یوه مقاله ئې ولیکله چې پایله ئې ددۀ په دوه وو کالو زنداني کیدلو واوښتله. په ۱۹۵۳ز کال کې په پېښور کې افغان قنسل سو. په ۱۹۶۱ز کال کې د پاکستان ولسمشر جنرال محمد ایوب دی د «نامطلوب شخص» [4] په نوم یاد کړ او افغانستان ته راستون سو. په ۱۹۶۳ز کال کې په بغداد کې قنسل او تام الاختیار سفیر [5] مقرر سو. په ۱۹۶۵ز کال کې ئې په ټاکنو کې د کاندید کېدلو له کبله له خپل پُست څخه استعفی وکړه خو دا هڅه ئې ناکامه وه. په همدغۀ کابل بېرته بغداد ته لاړ. په ۱۹۶۶ز کال کې د اندونیزیا سفیر او له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د چکوسلواکیا او هنګري سفیر. د خلقیانو د واکمنۍ پر مهال د څو میاشتو لپاره زنداني سو. د ۱۹۸۴ز کال د فبرورۍ په میاشت کې وفات سو.

### مفتاح الدین صافي

د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د سازماني کمېټې غړی. په ۱۹۸۰ز کال کې د انقلابي شورى غړی او د اقوامو او قبائیلو د وزارت مرستیال وزیر.

### محمد هاشم صافي

د محمد یوسف زوی په ۱۹۲۱ز کال کې زېږېدلی دئ. د کابل د غازي له لیسې څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۴۶ز کال کې د کابل پوهنتون د ساینس له پوهنځي څخه د لیسانس په درجې فارغ سو. او له ۱۹۴۸ تر ۱۹۵۴ز کال پورې ئې د ایلي نویز له پوهنتون څخه خپله ماستري په باکتریولوژي کې واخیسته، همدا شان د تګزاس په پوهنتون کې ئې هم روزنه ولیدله. په ۱۹۵۴ز کال کې د کندهار د لیسې مدیر او ورپسې د غازي د لیسې مدیر. د هلمند ددرې د پرمختیایي پروژې د روغتیا او د کلیو د پراختیا مدیر. په ۱۹۶۳ز کال کې د کورنیو چارو د وزارت د پلان رئیس. په ۱۹۶۵ز

[4] - Persona non grata
[5] -Minister Plenipotentiary, Baghdad


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کال کې د بلخ والي. په ۱۹۶۶ز کال کې د هلمند ولایت والي او د HAVA رئیس. په ۱۹۷۰ز کال کې د کندز والي. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د کورنیو چارو د وزارت مرستیال وزیر. له ۱۹۷۶ د ۱۹۷۷ز کال د جنوری تر میاشتې پورې د کابل ولایت سرپرست والي. له ۱۹۷۷ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د مزار والي. اوس د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.

**نصرالله صافي**

د مسکین شاه زوی په ۱۹۴۸ز کال کې د کونړ د ولایت د پیچ د ولسوالۍ په سندري[6] کلي کې زېږېدلی دئ. په ننګه لام[7] کې د لومړنیو زده کړو له بشپړولو وروسته په ۱۹۶۷ز کال کې حربي ښوونځي کې شامل سو. په ۱۹۷۱ز کال کې له حربي پوهنتون څخه فارغ او پوځي افسر سو. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۵ز کال پورې مصر ته لاړ او د کوماندو روزنه ئې ولیدله. په ۱۹۸۲ز کال کې ئې په شوروي اتحاد کې د فرونز په پوځي پوهنتون کې په پوځي علومو کې ځانګړې روزنه ولیدله. د کابل د حربي پوهنتون د تکتیک استاد. د دفاع د وزارت د پلان جوړولو د کمېټې غړی. پاکستان ته لاړ.

**سمیع الله صافي**

د سلطان محمد خان زوی په ۱۹۴۰ز کال کې د کونړ ولایت د پیچ د درې په مورچل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۳ز کال کې له دارالمعلمینو څخه او په ۱۹۶۷ز کال کې د کابل پوهنتون له ژورنالیزم څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۸ز کال کې ئې د عسکرۍ خدمت وکړ. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۳ز کال پورې په ولسي جرګې کې د پیچ ددرې استازی. په ۱۹۷۶ز کال کې د معارف د وزارت د عرفان د مجلې محرر. د پیچ د درې د مجاهدینو مشر سو.

**ډاکټر بسم الله سهاک**

خپلې لومړۍ زده کړې ئې د پغمان د خواجه مسافر په ښوونځي کې بشپړې کړې، وروسته د کابل دارالمعلمینو کې شامل سو او په ۱۹۶۰ز کال کې ورڅخه فارغ سو. په ۱۹۶۱ز کال کې د ابن سینا د ښوونځي ښوونکی. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي ته لاړ او خپل لیسانس ئې تر لاسه کړ. د خوشحال خان د لیسې ښوونکی سو او وروسته د ادبیاتو د پوهنځي مدرس سو. شوروي اتحاد ته د لوړو زده کړو لپاره لاړ او په ۱۹۷۷ز کال کې ئې خپله دکتورا ترلاسه کړه. افغانستان ته راستون سو او د غوایي تر پاڅون پورې بیکاره وو. د پلیتخنیک په انستیتوت کې مدرس. په ۱۹۷۸ز کال کې د کابل والي. د ۱۹۷۹ز کال د جون په میاشت کې ملګرو ملتونو کې سفیر. د خلق دیموکراتیک ګوند د ۱۱ حوزې منشي.

**ډاکټر حفیظ الله سهر**

په ۱۹۲۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. لیسانس ئې د حقوقو له پوهنځي څخه واخیست؛ خپله ماستري ئې د شیکاګو له پوهنتون څخه واخیسته او دکتورا ئې د نیویورک له پوهنتون څخه واخیسته. د باختر د بولتن مدیر. د اصلاح د ورځپاڼې سرمحرر. د راډیو افغانستان د نشراتو مدیر. د راډیو افغانستان مرستیال رئیس. د اطلاعاتو د کلتور د وزارت

[6] -Sundri Village
[7] -Nangalam


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د نړۍ والو اړیکو عمومي مدیر. د اصلاح رئیس. د نبراسکا د پوهنتون استاد. د یو شمېر آثارو مؤلف. مورنۍ ژبه ئـې دري ده.

**غلام محمد صاحبي**

د صاحب الدين زوی. د کابل پوهنتون د ښووني او روزني د انستيتيوت غړی. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۸ز کال پوري ئې د کولمبيا په پوهنتون کې په ښوونه او روزنه کې زده کړې کړې دي او ماستري ئـې اخيستې ده. د ۱۹۷۸ز کال د مې په مياشت کې د معارف د وزارت لومړی مرستيال وزير.

**مـحـمد حفيظ صحرايي**

د باز مـحـمد زوی په ۱۹۲۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۱ز کال کې د حبيـبيې له ليسې او په ۱۹۵۶ز کال کې د کابل پوهنتون د ادبياتو له پوهنځي فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۱ز کال کې ئـې د کولمبيا له پوهنتون څخه خپله ماستري په ښووني او روزني کې تر لاسه کړه. له ۱۹۵۱ تر ۱۹۶۱ز کال پورې د منځنيو ښوونځيو ښوونکی. د کابل پوهنتون د کتابتون مدير. د کابل پوهنتون د نشراتو عمومي مدير. د هرات ولايت د معارف مدير. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۸۲ز کال پورې د ملګرو ملتونو د کتابتون اسيستانت دايرکتر. په ۱۹۸۲ز کال کې ئـې افغانستان پرېښود او اوس په کاليفورنيا کې ژوند کوي. د جنرال عبدالواحد سراج له لور، ميموني سراج سره ئـې وادهٔ کړی دئ.

**صاحب جان صحرايي**

په ۱۹۷۳ز کال کې د مـحـمد داؤود د ګارډ بولندوی. ويل کيږي چې د مارکسيستانو پر وړاندې تر هغو بريالی وو چې په ارګ باندې هوايي بريد وسو. په ۱۹۷۸ز کال کې ووژل سو.

**صاحب جان صحرايي**

په ۱۹۳۷ز کال کې د روزګان په دهراود کې زېږېدلی دئ. د کندهار په دارالعلمينو کې ئـې زده کړې کړې دي او ورپسې د کابل پوهنتون د ښووني او روزني په پوهنځي کې شامل سو. د کابل د دارالعمعلمينو ښوونکی. تر ۱۹۷۳ز کال پورې د هېـواد په بېـلابېـلو ځايونو کې تدريس وکړ. په بريالی توګه ئـې ټاکنو کې ګډون وکړ. د ۱۹۷۳ز کال تر کودتا پورې زنداني وو. د خلقيانو په کنګره کې د مترقي ځوانانو د سازمان غړی وو او ورپسې د ګوند بشپړ غړيتوب ئـې تر لاسه کړ. په ۱۹۷۳ز کال کې د سرحدونو د چارو دايرکتر خو ولسمشر داؤود وروروسته له کاره ګوښه کړ. په ۱۹۷۴ز کال کې ئـې په ننګرهار کې د ګوندي کمېـټې لپاره کار وکړ. د غوايي له پاڅون وروسته د کندز والي سو او د ۱۹۷۹ز کال د اپريل په مياشت کې د سرحداتو وزير سو. په ۱۹۷۹ز کال کې د مشخص وزارت له لرلو پرته وزير وو. د ۱۹۸۰ز کال د جون د مياشتې په ۱۴ نېـټې په اعدام محکوم او اعدام سو.

نور بيا

**ډاکټر مـحـمد اسحٰـق ساعي**

د مـحـمد اسمٰعيل زوی په ۱۹۳۲ز کال کې په کابل کې...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ